# د خوشحال خان خټک په کلام کښې نړيوال روماني شخصيتونه او د هغوئ تاريخي معشوقې

**Dr. Ali Khel Daryab**♦

**Abstract:**

Khsuhal Khan Khattak, the great Pashto Poet, Scholar, Warriیor and Leader has always been one of the most influential reference point in the evolution and history of Pashto Literature. His voluminious collection of poetry comprises of outstanding political, social, literary, ethical, esthetical and historical substance. In this paper the scholar has probed into the description of the historical and metaphorical personalities that have been part of the grand and romance narrartives at global level. The paper presents interesting patterns of analysis and argumantiaon of the role, contents of character and their courage as lovers that are always echoed in the folk and written literary generes of literature.

د ستر خوشحال د شاعرۍ يوه لويه برخه د عشق او رومان په ډوبو رنګونو کښې خوښته ده، په دې چې خوشحال بابا په خپله پراخه سينه کښې د جمال د وسعتونو يو لېونى زړۀ درلودو، دې زړۀ چې په هغه د عشق او محبت کومې ناوياته تجربې کړې دي او هغه يې د مينې د کومو شوخو وارداتو او کېفياتو نه تېر کړى دى، دغه هرڅۀ خوشحال بابا په خپل کلام کښې په بې کچه هنرمندۍ رانغښتې دي چې مونږ ته يې د هغۀ په اشعارو کښې ځاى په ځاى ژوندي نقشونه په نظر راځي، ولې د دې سره سره ستر خوشحال په خپله شاعرۍ کښې د نړۍ د روماني شخصيتونو او د هغوئ د تاريخي معاشقو تذکره هم کړې ده چې د خپل کلام معنوي ښکلا يې پرې زياته کړې ده، دغه تذکره چرته د تلميحاتو په رنګ ده او چرته د پند او نصيحت بڼه لري، دغه شان په ځنې ځايونو

♦ Dr. Ali Khel Daryab Assistant Professor, Department of Pashto, Malalkand University Chakdera Swat.

کښې خوشحال بابا د دغه مینانو او د هغو د محبتونو د خپل ځان او خپل عشق سره مقایسه او موازینه کړې ده.

دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې د خوشحال بابا دغه یاد کړې شوي روماني شخصیات په عمومي توګه ډېر ښکاره دي او په نړیواله سطح بې کچه شهرت هم لري ولې اکثر لوستونکي یې صرف د نومونو نه واقف دي او د هغوئ د ځای ځائیګي قام، قبیلې یا مینې د واقعاتو په حقله ورته هیڅ معلومات نشته، دغه رنګ ستر خوشحال د ځنې نورو داسې مینانو تذکره هم کړې ده، چې هغه د ډېرو لوستونکو دپاره ضرور وي ځکه نو په دې لیکنه کښې د هغه ټولو روماني شخصیاتو په ترڅ کښې څېړنه کولی شي کوم چې خوشحال بابا په مختلفو حوالو په خپل کلام کښې مخې ته کړي دي.

اوس د دیو جونو وینځو په ځای نه ده
درخانۍ آدم خان کړه مشهوره(1)

که خبر د درخانۍ له مخه نه وی
آدم خان به ځنې څه غوښتل په کور کښې(2)

درخانۍ په کښې یو آدم خان خوښ کړ
یوسف زي ځوانان ډېر ؤ سواره پلي(3)

درخو هوښیاره وه ځان یې نادان کړ
نوم یې بد اصل د ادم خان کړ

تل یې د مور او پلار پېغور تاړه
په زړۀ مینه کار یې دا شان کړ(4)

په دې شعرونو کښې ستر خوشحال د پښتني روماني دنیا دوه معتبره او مشهور عاشقان ادم خان او درخانۍ یاد کړي دي.

"آدم خان په قام متېه خېل، ابا خېل بائيزی ؤ، اباخېل د يوسفزو يوه مشهوره څانګه ده او د ادم خان ټبر د اباخېلو په څلورم پشت کښې راځي(5)

"د يوسفزو په علاقه د موري د غرۀ په لمن کښې د ادم خان او درخانۍ پلرګنو استوګنه کوله، د ادم خان د پلار نوم حسن ؤ او درخانۍ د طاؤس خان ملك لور وه، دوی دواړه په بائيزو او رانيزو کښې ياد خانان وو"(6).

د درخانۍ پېژندګلو مولوي احمد دا رنګه کوي:

"کوزه باز دره کښې د يوسفزو يو سردار ؤ چې ډېر دولت يې لرو، او نوم يې طاؤس خان ؤ، او د هغۀ سردار يوه لور وه چې د هغې نامه درخانۍ يادېدله ولې په ښايست کښې په هسې شان وه چې بله سياله يې په هغه زمانه کښې چرته نۀ وه، ټول عمر په ستر پرده کښې لوئېدله"(7).

دغه راز محمد ويښ هم درخانۍ د کوزې باز درې يادوي، ليکي:

درخانۍ د باز درې کلي په ښکته خواوو کښې د سوات د علاقې د يو شتمن او مخور سړي لور وه"(8).

ډاکټر محمد اعظم اعظم د درخانۍ په حواله د خپل خيال څرګندونه داسې کوي.

"د وړوکوالي نه تر د نوي پېغلتوبه پورې درخانۍ يوه حياداره خو شوخه او خوش ارواحه او د سيلاني طبعيت بې غمه، بې پروا جينۍ وه، د هغې ډېرې ملګرې (سهېلۍ) هم وې چې په دغو ټولو کښې د باز درې بسکۍ دې ته ډېره نزدې او عزيزه وه، د ځنو رواياتو له رويه بسکۍ د درخانۍ د ترور لور وه"(9).

د ادم درخو يو څېړنه ليکوال د ادم خان د ژوند د اخيري ساعتونو په حقله ليکي:

"څۀ وخت چې ادم په خپله مينه نااميده شو نو د خپل وطن د خلقو او خپلې خانۍ ملکۍ نه هم وېزاره شوه او د هندوستان په لور يې مخه ونيوله خو څۀ وخت چې د اکوړې په خوا (د خټکو په علاقه) د مصري باندې کلي ته را ورسېد نو د خپلې مينې تاوونو او د اشنا د فراق غمونو

دومره زېلې ؤ چې په تن کښې يې نور د وړاندې تللو توان نۀ ؤ. او هم د دغه رنځ د کبله په دغه ځاى کښې يې ساه ورکړه"(10).

دغه رنګ محمد نواز طائر د درخانۍ د مړينې په ترڅ کښې ليکي:

"درخانۍ چې د هغه (آدم خان) د مرګ خبر واورېد نو هغه هم په خپل ژوند ستومانه شوه او د دې دنيا نه رخصت شوه، خوش اعتقاده خلقو د درخانۍ جنازه مصري بانډې ته راوړه او دغه دواړه صادقان عاشقان يې د يو بل خوا کښې خاورو ته وسپارل"(11).

د محمود او اياز د مينې قصه په پښتو او د پښتو سره د ګاونډيو ژبو په ادبياتو کښې پې کچه شهرت لري، خوشحال بابا هم د هغوئ يادونه کړې ده.

محبت غلام بادشاه، بادشاه غلام کا
خبر واخله له ايازه له محموده"(12)

نۀ محمود شته نۀ اياز دور يې تېر شۀ
په جهان پاتې خبرې د محمود دي"(13)

"سلطان يمين الدوله ابو القاسم محمود د سبکتګين زوى ؤ. دى يو نوموړى بادشاه تېر شوى دى، په کال 389هـ کښې چې ناصر سبکتګين وفات شو او لښکر د خراسان محمود ته حواله شو نو خليفه القادر بالله دۀ ته د يمين الدوله او امين الامت لقب او خطاب ورکړو، دۀ د تخت نشينۍ په وړومبو ورځو کښې په سيستان باندې حمله وکړه او د سفاريانو نه يې سيستان ونيو، محمود غزنوي ډېر ځله د غزا او جهاد په نيت په هندوستان باندې حملې وکړې او اخير په 394هـ کښې يې سومنات مات کړو. دۀ د خپلې حکمرانۍ په موده کښې ترکستان، خوارزم او عراق د خپل اثر لاندې راوستل، دۀ دوه دېرش کاله بادشاهي وکړه. د دۀ وفات په 421هـ کښې شوى دى. محمود غزنوي په شجاعت، عدالت او دياتتدارۍ کښې ډېر مشهور او معروف ؤ. فريد الدين عطار دى په خپلو اثارو کښې د عادلو متدين او مردم دوست په صفتونو ياد کړى دى. د دۀ مزار په غزل کښې دى"(14).

د خزانه تلمیحات مؤلف د ایاز پېژندګلو څۀ په دا ډول کوي:

"د سلطان محمود غزنوي د غلام نوم ایاز ؤ. د دۀ سره د سلطان محمود غزنوي ډېره زیاته مینه وه، تر دې چې د ملك د سرو سپینو مالك یې جوړ کړی ؤ، د محمود ایاز مینې دومره شهرت بیاموند چې شاعرانو په خپلو کلامونو کښې تلمیحاً استعمال کړو، ویلی شي چې د ډېرې لویې مرتبې او منصب باوجود هم ایاز خپل اصلیت نۀ ؤ هېر کړی او دا خپل معمول جوړ کړی ؤ چې هره ورځ به یې هغه جامې کتلې کومې چې هغۀ د خپلې غریبۍ په زمانه کښې اغوستلې، دې دپاره چې زړۀ کښې یې څۀ لویي را نۀ شي"(15).

"سره د دې چې ایاز دومره ښایسته او ښکلی نۀ ؤ ولې غوره مخی ضرور ؤ. د هغۀ اعضاء متناسب وو، هغه ډېر هوښیار، میانه رو او مؤدبه انسان ؤ. د سلطان محمود غزنوي په دربار کښې ایاز د لوی مقام او ډېر تقرب خاوند ؤ. تر دې چې د هغۀ سورلۍ به د بادشاه د سورلۍ سره ځنګ په ځنګ تلله، کله چې په 491هـ کښې محمود غزنوي وفات شو نو دۀ د امیر محمد خوا پرېښوده، نیشاپور ته ولاړ او د سلطان مسعود د دربار سره یې ځان وتړلو، دۀ ته سلطان مسعود د قضدار او مکران امارت وسپارلو"(16).

وروسته ایاز د سلطان مسعود د زوی شهزاده مجدود تقریباً شپږ کاله په لاهور کښې اتالیق پاتې شو او د مجدود نه پنځلس کاله پس هم ژوندی ؤ. د دۀ قبر د پخواني ښار نه بهر هغه ځای موجود دی چرته چې د نواب سعد الله رنګ محل او د رنجیت سنګهه ټکسال ؤ. د محل نوم اوس هم شته او قبر د شاه عالمي دروازې په نوي بازار کښې د سړك په غاړه په یو اوچت ځای ډبه کړی شوی دی"(17).

دغه رنګ خوشحال بابا د "نل دمن" یادونه هم کړې ده، نل دمن د هندوستان د روماني ادب یو جوت داستان دی، د من یا د منېتي د نل محبوبه وه، د دغه دواړو مینانو داستان خوشحال بابا د لیلی مجنون د داستان سره په یو ځای د زاهد په حواله ذکر کوي چې زاهد ریاکار دی، د

کور نه بهر د عشق نه انکار کوي خو په کور دننه د نل دمن او ليلٰی مجنون قصې لولي، وايي:

زاهد ورچاني انکار کاندې له عشقه
نل دمن، ليلٰی مجنون لولي په کور"(18)

"نل د اجين يو نامتو راجه ؤ، دی نۀ يوازې زړور، ښکلی او لوړ همته انسان ؤ بلکې په علم و فضل کښې يې هم لوی لاس لرلو، او په خصوصي توګه د ويدونو لوی عالم ګڼلی شو، دغه رنګ د جنګي هنرونو پياوړی ماهر هم ؤ. د نل د ځوانۍ زمانه وه، د هغۀ په زړۀ کښې نااشنا خواهشونه په غورځنګ وو او يو ناليدلي ښايسته مخ يې په خيالونو کښې غزونې کولې، که څۀ هم هغه د دغې صورتِ حال نه ځان ويستل غوښتل ولې هغه پوهېدو چې څۀ وکړي؟. هم له دې کبله هغه ناروغه شو، وزيران، طبيبان او نبض شناسان يې را وغوښتل چې د راجه علاج وکړي، ولې د عشق مرض د طبيبانو په علاج چرته ښۀ کېدو، اخير يو پوهه طبيب د راجه نل په بيمارۍ ورسېد چې دا د عشق بيماري ده او دغه اطلاع يې وزير ته ورکړه، وزير هم ډېر کوشش وکړو چې د راجه نل پرېشاني په څۀ نه څۀ طريقه ختمه کړي خو د نل په زړۀ کښې چې مينې کوم طوفان را اوچت کړی ؤ هغه د تمېدو نۀ ؤ.

يوه ورځ نل خپل ټول مقربين را وبلل او هغوئ ته يې وويل چې ما ته د زړو مينانو داستانونه واوروئ. هغوئ وار په وار د تېرو وختونو د عاشقانو داستانونه راجه ته واورول، يو مقرب چې دغه زاړۀ داستانونه واورېدل نو وې ويل چې دا تېرې شوې قصې بېکاره دي زۀ راجه ته يو ژوندی داستان اورول غواړم او بيا يې د بېدرد راجه قصه بيان کړه څوک چې د دکن اوسېدونکی ؤ. دغې مقرب وويل چې بېدرد راجه ته يو درويش د اولاد دپاره دعا وکړه او د بېدرد راجه درېمه لور پيدا شوه، د دغې لور نامه هغه دمن کښېوده دا جينۍ ډېره ښايسته وه چې سپوږمۍ به يې د حسن نه شرمېده او هم دا وجه وه چې په ټول هندوستان کښې د دغې شهزادګۍ د ښايست چرچا وه او اوس يې هم په محفلونو کښې د

حسن او ښکلا تذکرې کیږي، کله چې نل د دمن د ښکلا او حسن قصه واوریده نو هغه په زړه وخوړه چې زما د خیال دنیا شهزادګۍ هم دغه ده اوس هغه نور هم ناقرار شو او د هغۀ د ناقرارتیا دغه قصه خوره شوه، عن چې دمن ترې هم خبره شوه، نل د دمن تصویر را وغوښت او خپل ژوبل زړۀ به یې په دغه تصویر ټکورولو"(19).

"څۀ موده پس په سوئمبر کښې دمینتي د نل انتخاب وکړو، راجه د دوی دواړو وادۀ ښۀ په درز کښې وکړو، دخت تېرېدو دوی له قدرت دوه بچي ورکړل، د نل کشر ورور یشکر د دۀ سره ډېر حسد کوو، یو ځل په جوارۍ کښې یشکر د نل نه هرڅۀ وګټل، او دواړه یې ځنګل ته وشړل، نل دمینتي دواړو ډېرې سختې تېرې کړې، نل دمینتي ته بیا بیا وویل چې د پلار کره ولاړه شي خو هغې نۀ منل اخیر دمینتي یې په خوب ویده پرېښوده او نل ترې ځان ورك کړو، دمینتي د راجه چهېدي کره ولاړه، بل اړخ ته "نل" په ځنګل کښې مار وچیچلو او دغه زهر دومره خطرناك ؤ چې د نل شکل او قد یې بدل کړل، نل ځنګل پرېښودو او د راجه توپرن سره یې نوکري اختیار کړه، دمینتي پلار کور ته راوسته یو برهمن د مینیتي ته وویل چې ستا خاوند ژوندی دی. ځکه نو پلار یې په دویم ځل سوئمبر وټاکلو، او داستان دمینیتي ته یو ځل بیا "نل" په لاس وراغلو، د یشکر سره یې یو وار بیا جواري وکړه او هرڅۀ یې ترې را سر کړل"(20).

خوشحال بابا په خپل کلام کښې "ویس او رامین" ته هم اشاره کړې ده، د دې مینانو په بابله د ځنو خلقو دا خیال ؤ چې دا ګنې د هندي ادب د یو داستان دوه کردارونه دي، خو دغه خیال سم نۀ دی، د اردو ژبې لوی څېړنکار حافظ محمود شېراني لیکي:

"په دغه بنیاد "بحرالفوائد" چې په شپږمه صدۍ هجري کښې لیکلی شوی دی او په فارسي ژبه کښې د ابي سعد ارسلان آبه بن آق سنقر دپاره تصنیف شوی دی. مصنف په دغه کتاب کښې د اولاد د تربیت په معامله کښې په مور پلار پاسلنه ایښې ده، چې د "ویس رامین" غوندې کتابونه ماشومانو په ډېره ساتل په کار دي"(21).

وړاندې لیکي:

"فخر الدین اسعد ګرګاني د الٰهي نامې نه د "ویس رامین" یو زړۀ راښکونکی حکایات تالیف کړی دی، کوم چې زمونږ دپاره ډېر نوي معلومات لري"(22).

"ویس د رامین د معشوقې نامه ده، د ویس پلار د خراسان د شاه موبد بادشاه سره په جنګ کښې قتل شوی ؤ. د دې د مور نوم شهرو یا شېربانو ؤ. څوك چې د خاوند د مرګ نه پس شاه موبد د کوهستان واکمنه په دې شرط مقرره کړه چې هغه به خپل لور "ویس" شاه موبد ته ودوي، ولې شهرو د ویس وادۀ د خپل ورور سره وکړو خو شاه موبد د دولت په زور ویس د خپل محل ښکلا وګرځوله، ولې "ویس" د هغۀ سره خوشحاله نۀ وه ځکه چې شاه موبد د پېرۍ په عمر کښې د هغې د ځوانۍ غوښتنې نۀ شوې پوره کولی، ځکه نو "ویس" د شاه موبد نه خپله توجه د یوې دا یې د جادو په ذریعه "رامین" ته وګرځوله او رامین د هغې د مینې او حسن له خاطره هغه څۀ وکړل چې یو عاشق د خپلې معشوقې دپاره کولی شي"(23).

"رامین" د خراسان د بادشاه "شاه موبد" ورور ؤ. د دۀ بل ورور "زرد" نومیدو، رامین چې پیدا شو نو د پالنې او روزنې دپاره یې خوزان ته ولېږو، خوزان د مرو او همدان په مینځ کښې یوه ښېرازه علاقه ده، دغلته د دۀ سره د کوهستان د ملکې شهربانو (معروف به شهرو) لور، "ویس" هم د لویولو دپاره راوړی شوې وه، په خوزان کښې رامین او ویس سره یو ځای لس کاله تېر کړل، او بیا خپلو خپلو علاقو ته ستانه کړی شول. څۀ موده پس چې شاه موبد ته ویس واده شوه او شاه موبد د هغې د ځوانۍ د تقاضو په پوره کولو کښې پاتې راغی نو ویس د جادو په زور رامین ځان پله راغب کړو. هغه خپل ورور "زرد" ووژلو او شاه موبد د یو ځنګلي ځناور ښکار شو. دا رنګ رامین ته د خراسان تخت په ګوتو وراغلو او دري اتیا کاله یې بادشاهي وکړه. د ویس نه یې دوه بچي پیدا شوو، په خپل ژوند یې زوی ته بادشاهي وسپارله او په خپله د مقدس اور د آتش کدې منجاور جوړ شو"(24).

هیر رانجا د پنجاب په خاوره دوه نومیالي عاشقان تېر شوي دي، د دوی د مینې داستان په پنجابي ژبه کښې وارث شاه لیکلی دی، خوشحال بابا د دوی دغه نۀ هېرېدونکی داستان تلمیحاً داسې راوړی دی، وايي:

شور و شر به د رانجا په جهان نۀ ؤ
که د هیر صورت پیدا نۀ وای په شور کښې"(25)

"رانجا د تخت هزارې اوسېدونکی ؤ. د دۀ پلار د خپلې علاقې لوی امیر او یا چودهري ؤ. رانجا نه علاوه د دې چودهري نور هم ډېر زامن وو، رانجا په ټولو کښې کشر ؤ. د دۀ خپل نوم "وحید" ؤ، ولې د "هیر" سره بې کچه واقعې دی په دنیا کښې د رانجا په نوم مشهور کړو. هیر د مهر چوچك لور وه او د جهنگ سیال اوسېدونکې وه، رانجا د هیر په نالیدلي حسن مین شوی ؤ. هم دغه وجه وه چې رانجا به شپېلۍ غږوله او د هیر زړۀ به یې خوشحالولو. د دوی د مینې خبره چې خوره شوه نو مهر چوچك فیصله وکړه چې خپله لور "هیر" رانجا ته ورکړي، ولې د مهر چوچك ټول قوم د هغه د دغې فیصلې مخالفت وکړ او د دهیر وادۀ یې د کهیړ خاندان د "سیدا" نومې یو ځوان سره وکړو، هیر د دغې وادۀ نه سکوټ انکار وکړو خو هغه په زور د سیدا کور ته یووړې شوه"(26).

"رانجا د هیر د سخرګنۍ علاقې رنګپور ته لاړ، هلته یې څۀ موده د جوګیانو په جامه کښې تېره کړه او اخیر یوه ورځ د هیر په تښتولو کښې بریالی شو، ولې د هیر د سخرګنۍ کور پرې خبر شو هغوئ پسې ووتل او دواړه یې لاندې کړل، وروسته د هیر ماما کېدو هیر له زهر ورکړل او هغه مړه شوه، رانجا دغه صدمه برداشت نۀ کړی شوه او هغه هم دې فاني دنیا ته په مخه اووې"(27).

د حضرت یوسف علیه السلام او زلیخا واقعه د قبول عام درجه لري دا واقعه د مختلفو ژبو شاعرانو په بېلا بېلو اندازونو بیان کړې ده. خوشحال بابا هم دا واقعه چرته د تشبیهاتو، استعاراتو په جوړ او چرته د

اشاراتو او تلمیحاتو په رنګ ډېر په مؤثره طریقه په خپل کلام کښې را ځای کړې ده. د مثال په ډول دا څو شعرونه:

اول مینه د یوسف په زلیخا وه
بیا له پسه د مجنون او د لیلی وه"(28)

په جهان کښې مینه هم وه
د یوسف د زلیخا"(29)

که جمال یې و یوسف نۀ وای ورکړی
چا به غم په زلیخا باندې کښېښ(30)

"حضرت یوسف علیه السلام ته الله تعالی د ښۀ خوی سره سره بې پناه حسن هم پیرزو کړی ؤ. هغه د حسن و جمال پیکر ؤ. د هغۀ مخ به د نمر او سپوږمۍ په شان پرقېدلو، د مصر د عزیز ښځه زلیخا خپله هم ډېره زیاته ښایسته وه خو هغه د یوسف علیه السلام په حسن ورکه مینه وه، د دغه مینتوب په وجه هغې د خلقو پېغورونه وزغمل، رسوائي او الزامونه یې برداست کړل، سره د دې چې حضرت یوسف علیه السلام له اړخه هغې ته توجه حاصله نۀ شوه، ولې بیا هم هغې د خپلې لېونۍ مینې لمن پرې نۀ ښوده"(31).

مولوي سید احمد دهلوي د زلیخا په حقله لیکي:

"زلیخا د عزیز مصر هغه بې بي وه چې په حضرت یوسف علیه السلام مینه شوې وه او هم د هغې په ډېره وینا د مصر بادشاه چې غازن نومېدو، حضرت یوسف علیه السلام په بیه اخستی ؤ"(32).

ابو الکلام ازاد په دغه لړ کښې خپل خیالات څۀ دا رنګ څرګندوي:

"زلیخا چې د عزیز مصر د ښځې نوم یادولی شي، دا نوم په تورات کښې نشته، البته د یهودیانو په روایاتو کښې دغه نوم بیامونذی شي او د یهودیانو د روایاتو نه د مسلمانانو په ژبه راغلی دی. د زلیخې په باره کښې عام طور دا خیال ډېر مشهور دی چې هغه وروسته د حضرت یوسف علیه السلام په نکاح کښې راغلې وه، ولې د دې خبرې سند نۀ خو

په قرآن کښې شته، نۀ په احاديثو کښې او نۀ په تورات کښې په دغه حقله څۀ راغلي دي"(33).

"د حموي د بيان تر مخه د يوسف عليه السلام قبر په بلاطمه کښې دی چې د فلسطين د يوې علاقې نابلس يو کلی دی. دغه قبر د يوې ونې لاندې دی"(34).

دغه رنګ فرهاد او شيرين د ايراني ادبياتو يوه جوته الميه ده، خوشحال بابا د شيرين فرهاد دغه دردناکه واقعه چرته يوه ستوي ذکر کړې ده او چرته يې د نورو مينانو سره په شريکه په خپلو اشعارو کښې تلميحاً راوړې ده:

زۀ فرهاد د زمانې يم
تۀ شيرينه د دې دور(35)

هغه باغ هغه باغوان هغه يې ګل دی
چې فرهاد باندې بلبل وه يا وامق(36)

قيس وه که وامق وه که فرهاد وه که خسرو وه
هرچې عاشقي کا سل رحمت په واړو باندې"(37)
له دنيا نه هيچا کام موندلی نۀ دی
که شيرين وه که خسرو وه که فرهاد دی"(38)

"فرهاد د ايران يو نامتو عاشق ؤ. د دۀ محبوبه شيرينې نوميده، دی د پيشې په لحاظ سنګتراش ؤ. او د ايران د لوی ساساني بادشاه خسرو پرويز رقيب ؤ. شيرينې د خسرو پرويز عيسايينه ملکه وه، او هغه فرهاد ته د دې د ورکولو دپاره د بيستون غر د سوري کولو شرط کښيښودی ؤ. فرهاد دغه ژوند اخستونکی کار تقريباً ختم کړی ؤ. چې د شاهي محل نه ورته يوه وينځه وراغله او هغه ته يې د شيرينې د مرګ دروغ خبر واورولو د دغې خبر په اوريدو هغه سملاسي خپله تيشه سر ته را واچوله او ځان يې ووژلو"(39).

"شيرين د فرهاد معشوقه ده او د خسرو پرويز ښځه وه"(40).

"کله چې قباد (روم) شهرویه خپل پلار پرویز خسرو مړ کړو او خپله په تخت کښېنوست نو نۀ یوازې هغۀ خپل ټول وروڼه د تېغ نه تېر کړل بلکې د خپلې میرې مور شېرین سره یې وادۀ کولو ته هم اکر بدل کړل، شېرین ورته د وادۀ دپاره دوه شرطونه کښېښودل، یو دا چې هغه د شېرین او د هغې د اولاد نه کوم مال و زر اخستي دي هغه واپس کړه او بل د وادۀ نه وړاندې هغې ته د پرویز قبر ته د تللو اجازت ورکړه، قباد دغه دواړه شرطونه نۀ ومنل، د هغې اولاد او هغې ته یې خپل مال و زر فوراً واپس کړل، شیرین د دغې مال نه زیاته برخه هغه وینځو ته ورکړه څوک چې د مالي مدد نه محرومه پاتې شوې وې او څۀ برخه یې عبادت خانو ته ولېږله خپله یې پاکې جامې واغوستلې او د خسرو پرویز قبر له ولاړه هلته یې د خپلې ګوتې نه غمی لرې کړو او د غمي نه لاندې پټ کړی شوي زهر یې وخوړل او ځان یې مړ کړو"(41).

ستر خوشحال د وامق او عذرا د عاشقۍ قصې هم په اشارو او کنایو کښې څېړلې دي، کله یې د هغوئ مینه ستایلې ده او کله یې ورسره د خپلې مینې مقایسه کړې ده:

اول مینه د یوسف په زلیخا وه
بیا له پسه د مجنون او د لیلا وه
له غه پسه د وامق او د عذرا وه
عاشقي لا زۀ ته نۀ وو چې پیدا وه"(42)

زۀ په دې باندې عاشق یم
دا عذرا ده زۀ وامق یم"(42)

که عذرا په ملك کښې شته مخ دې ښکاره کا
زۀ په تن کښې زړۀ لرم د وامقۍ"(44)

که ته لکه لیلی یې ما مجنون بوله په عشق کښې
که ته لکه عذرا یې زۀ هم کم تر وامق نه یم"(45)

د وامــق پــه حقلــه مختلفــو ليکوالــو او وينــاوالو بــېلا بېلــې رايــې قــايمې کــړې دي، پــه ترکــي ژبــه کښــې چــې د وامــق عــذرا کومــه مثنــوي محمــود لامعــي بــن عثمــان بــرو شــوي منظــوم کــړې ده، دغــه مثنــوي تقريبــاً درې زره بيتونــه لــري، د محمــود لامعــي د وينــا تــر مخــه "وامــق د طېمــوس خاقــان زوی ؤ او مــور يــې د تــوران د خاقــان لــور وه، عــذرا د وامــق پــه حقلــه خبــرې اورېــدلې وې او پــرې نالېــدلې مينــه شــوې وه ځکــه نــو وامــق لــه يــې خپــل تصوير را لېږلی ؤ او هغه هم پرې زړۀ بايللی ؤ"(46).

عــذرا د فلقــراط بادشــاه لــور وه، فلقــراط د يونــاني تــاريخ د يــو غــدار بادشاه اقوس زوی ؤ"(47).

د دايــرة المعــارف اســلامي تــر مخــه: "د عــذرا د مــور نــوم يــاني ؤ .... عــذرا الله تعــالی د نــورو خلقــو نــه پــه فــرق پيــدا کــړې وه، هغــه چــې د اووۀ مياشــتو شــوه نــو وګرځېــده پــه لســمه مياشــت يــې خبــرې شــروع کــړې او پــلار يــې د تعلــيم و تربيــت دپــاره فلاطــوس تــه ورکــړه خــو د حيرانتيــا خبــره دا ده چې هغې د دوۀ کــالو پــه عمــر کښــې لوســتل زده کــړل چــې د اووۀ کــالو شــوه نــو علــم نجــوم يــې حاصــل کــړو او د ليکلــو مــاهره شــوه، خپــل اســتاد فلاطــوس چې بــه ورتــه څۀ ښــودل هغــه بــۀ يــې فــوراً زده کــول چــې د لســو کــالو شــوه نــو پــه نخښــه ويشــتلو کښــې اســتاذه شــوه، پــلار چــې يــې د هغــې نــه امتحــان واخســتو نــو هغــه خپلــو لــور پــه پوهــه کښــې بــې مثلــه بيامونــده ځکــه نــو نــوم يــې پــرې عــذرا کېښــودو.... عــذرا بــه ښــکاره مــخ ګرځېدلــه، د ګــډا او ســرود پــه محفلونــو کښــې بــه يــې ګــډون کولــو، کــه جنــګ بــه ؤ نــو دا بــه د فــوځ ســره پــه وړومبــي صــف کښــې جنګېــده، پــه دغــه ورځ چــې وامــق د فلقــراط ملــك تــه تښــتېدلی ؤ، عــذرا د مــور ســره هيکــل تــه راغلــې وه، د دواړو ملاقــات وشــو، نالېــدلي مينــان يــو ځــای شــول، بيــا د عــذرا د پــلار پــه اجازت وامــق شاهي محل ته بوتلی شو"(48).

هــم دغــه شــان ستر خوشــحال بابــا پــه خپلــو شــعرونو کښــې د ليلــی مجنــون يادونــه کــړې ده، پــه دغــه حوالــه پــه کليــاتو کښــې تقريبــاً ســل شــعرونه بيامونـدلی شي، دلته ترې د نمونې په توګه يو څو اشعار را نقل کولی شي.

مینـــــه د مجنـــــون پـــــه لـــــیلا وشـــــوله ډېـــــره
څـــو بـــه چـــې عـــالم وربانـــدې وکـــړه هـــورې زور"(49)

د مجنـــــــون مینـــــــه یـــــــوازې پـــــــه لـــــــیلا ده
تـــر نظـــر پـــورې یـــې نـــورې دې معـــدومې(50)

و مجنـــــــون تـــــــه د لـــــــیلا خبـــــــرې وایـــــــه
نـــۀ لـــه علمـــه لـــه مذهبـــه نـــۀ لـــه دینـــه"(51)

چـــا پـــه وخـــت د ځنکنـــدن اووې مجنـــون تـــه
وخـــت اخیـــر دی پـــه زړۀ یـــاد لـــره خپـــل خـــدای

دۀ وې زړۀ مـــــې د لـــــــیلا د یـــــــادو ډك دی
پـــه کښـــې نشـــته دې د نـــورو یـــادو ځـــای"(52)

فرهنګ آصفیه کښې د لیلا متعلق څه دا رنګ ذکر راغلی دی:

"لـیلا عامریـه د مهـدي بـن سـعد عـامري لـور وه او د عـامر بـن صحصـه قبیلـې سـره یـې تعلـق لرلـو، او د قـیس بـن ملـوح عـامري معشـوقه وه، د دوی دواړو د مینـې قصـې دومـره شـهرت بیامونـد چـې نـۀ یـوازې د دوی نـامې د هـر چـا پـه خولـۀ وې بلکـې د متلونـو رنګ یـې اختیـار کـړو، مجنـون پـه 65هـ کښـې د دې فـاني دنیـا نـه لاړو او لـیلا د مجنـون نـه وړانـدې دې نیمګـړې نیمه خوا دنیا ته په مخه ویلي ۀ"(53).

د ریحانه الادب مصنف لیکي:

"لـیلا د یـوې درنـې کـورنۍ جینـۍ وه کـه څـۀ هـم د قـیس سـره د هغـې مینـه وه ولـې ژبـه یـې د خانـدان د عـزت لـه خـاطره نـۀ شـوه پرانسـتی، سـره د دې چـې لـیلا کـوم ځـای وادۀ شـوې وه، هلتـه خوشـحاله نـۀ شـوه اوسـېدای، د لـیلا پـه حقلـه دا هـم ویلـی شـي چـې هغـه د تـور پوسـتکو لـه نسـله وه خـو د دې باوجود مجنون پرې بیا هم ورك مین ۀ"(54).

انسائیکلوپیډیا آف اسلام د مجنون په حواله دغه معلومات را نقل کوي:

"د مجنـون خپـل نـوم قـېس ۀ خـو خلقـو بـه ورتـه د مینـې د جنـون لـه وجې مجنـون، مجنـون ویـل، د دۀ د پـلار نـوم ملـوح بـن فـراخم ۀ څـوك چـې د خپلـې

قبیلې بن عامر سردار ؤ او په نجد کښې یې استوګنه لرله، قیس په وړوکوالي کښې لیلا لیدلې وه او سترګې یې پرې خوږې شوې وې، د قیس د لېونۍ مینې نه د هغهٔ مشران خبر شوي وو او هغوئ غوښتل چې لیلا د هغهٔ د ژوند ملګرې جوړه کړه خو هغوئ کامیاب نهٔ شول، بل خوا په قیس د مینې دومره اثر وشو چې صحرا ته ووت او هلته یې د مرګ فرښتې ته هرکلی ووې، ویلی شي چې مجنون صاحبِ دیوان شاعر ؤ د دهٔ د ژوند زمانه 724ء یادولی شي"(55).

د لرغوني عاشقانو د یادونې په لړ کښې خوشحال بابا د "محبوبې" ذکر په خپل یو شعر کښې د شرین او کوهکن سره داسې کړی دی، وایي:

تـــه محبوبـــه کـــه شـــیرینه د دې وخـــت یـــې
زهٔ خوشـــــحال د اوســـــني دور کـــــوهکن"(56)

محبوبه د جلات نومې عاشق معشوقه وه چې پلار یې په تېره زمانه کښې د پېښور بادشاه ؤ. دغه بادشاه نامسلم نومېدو، ویلی شي چې د جلات شپږ وروڼه د محبوبې په حاصلولو کښې ناکامه شوي وو او سرونه یې بایللي وو، ولې جلات د محبوبې په ترلاسه کولو کښې بریالی شوی ؤ.

منشي احمد جان لیکي:

"په هغه زمانه کښې چې د پېښور ښار نوم جوده پور ؤ، یو نامسلم نومې بادشاه پر بادشاهي کوله.... محبوبه هم د دهٔ د کشرې ښځې لور وه، وایي چې دا پیدا شوه نو میندو له بادشاه نه پټه کړه، (ځکه چې هغه په لوڼې وژلې) او نهه کاله یې پټه وساتله، یوه ورځ.... چې د بادشاه د راتلو غږ شو نو دې له هیبته دو کړو چرته پټه شوه، ولې یوه پڼه ترې پاتې شوه چې بادشاه په پڼه سترګې ولګېدې نو تپوس یې وکړو چې دا د چا ده؟ ښځې ورته لاس په نامه ودرېدې او مرګ ته یې غاړه کېښوده حال یې ورته ووې هغه له ناکامه په شي کار کښې پوزه و نهٔ چوڼله ولې هغې ته یې تهه خانه جوړه کړه او د تهه خانې دپاسه یې د اووهٔ دېوالونو چاپېرچل پېچ په پېچ قلا جوړه کړه او حکم یې وکړو چې دې کښې دې اوسیږي"()57).

خاطر غزنوي د جلات محبوبه او د جلات د ورونو د قبرونو په ترڅ کښې څۀ په دا ډول معلومات راکوي:

"د پېښور سنټرل جېل ته مخامخ چې کوم محرابي سور پُل دی د دغې نه لږ آخوا يوه ډېره زړه مقبره ده چې په کښې د څو نوو قبرونو نه علاوه دوه پخواني قبرونه هم دي، ويلی شي چې دغه قبرونه د جلات او محبوبه قبرونه دي.... د دغې مزارونو نه سوهېل ختيځ پله ګورنمنټ زنانه نارمل سکول ته مخامخ او ډبګيرۍ پوليس چوکۍ سره خوا ته يوه بله مقبره ده چې په کښې شپږ قبرونه دي، د دغه قبرونو په حقله ويلی شي چې دا قبرونه د جلات د هغۀ ورونو قبرونه دي کوم چې نامسلم بادشاه ؤ"(58).

# حوالې

(1) ختټک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، اداره اشاعت سرحد، پېښور، منظور عام پریس پېښور، 1960ء، مخ318.
(2) همدغه کتاب، مخ366
(3) همدغه کتاب، 409
(4) همدغه کتاب، 673
(5) محمد حیات خان، سردار، حیاتِ افغاني، ناشر نۀ لري، کوه نور پریس لاهور، 1884ء، مخ173.
(6) طائر، محمد نواز، پروفېسر، ادم خان درخانۍ یوه څېړنه، پښتو اکېډمۍ پېښور، غني پرنټرز پېښور، 1981ء، مخ1.
(7) مولوی احمد، قصه ادم خان او درخانۍ، خالد کتاب خانه حیات اباد، پېښور، مطبع نۀ لري، 1991ء، مخ1.
(8) ویښ، راز محمد، پښتو کتابونه، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبع کابل، 1337هـ ش، مخ39.
(9) اعظم، ډاکټر محمد اعظم، پروفېسر، پښتو ادب کښې کردانګاري، پښتو اکېډمۍ پېښور، ملت پرنټرز لاهور، 1993ء، مخ104، 105.
(10) طائر، محمد نواز، پروفېسر، ادخان درخانۍ یوه څېړنه، مخ2.
(11) همدغه کتاب، مخ14.
(12) کلیات خوشحال خان ختټک، مخ59.
(13) همدغه، مخ42.
(14) فراز آورنده، ابو سعید عبدالحی، زین الاخبار، بن تصحیح و تحشیه و تعلیق عبدالحی حبیبي، تهران، 1347هـ ش، مخ175.

(15) محمـود نيـازي، خزانـه تلميحـات، ملـك بـك ډپـو لاهـور، نـدين يونس پريس لاهور، سن اشاعت نۀ لري، مخ64، 45.

(16) سـمر قنـدي، احمـد بـن عمـر، چهـار مقالـه، ډاکټـر محمـد معـين، تهران، 1333هـ ش، مخ175.

(17) اردو، دائـرة المعـارف اسـلاميه، دانـش ګـاه پنجـاب لاهـور، پنجاب يونيورسټي پريس لاهور، 1975، ج1، مخ602.

(18) کليات خوشحال خان خټك، مخ95.

(19) احمـد سـراوي، نـل دمـن، انجمـن ترقـي اردو پاکسـتان کراچـي، انجمن پريس نشتر روډ کراچي، 1978ء، مخ9.

(20) نيازي، محمود، خزانه تلميحات، مخ401 تا 403.

(21) شـېراني، محمـود، حـافظ، مقـالات حـافظ شـېراني، مرتبـه مظهـر محمـود شـېراني، جلـد 5، مجلـس ترقـي ادب لاهـور، مطبـع عاليـه، لاهـور، 1970ء، مخ276.

(22) علـي اکبـر، لغـت نامـه، دانشـګاه ادبيـات تهـران، شـرکت چـاپ افست ګلشن تهران، شماره مسلسل 99، 1343هـ ش، مخ126، 127.

(23) شېراني، حافظ محمود، مقالاتِ حافظ شېراني، مخ486.

(24) ګرګـانی، فخـر الـدين اسـعد، ويـس رامـين، مؤسسـه انتشـارات اميـر کبيـر تهـران، چـاپ خانـه سـپهر تهـران، 1353هـ، د مـخ 9 نـه تـر مـخ 56 پورې د معلوماتو لنډيز.

(25) کليات خوشحال خان خټك، مخ366.

(26) نيازي، محمود، خزانه تلميحات، مخ417.

(27) اسـلم پرويـز، پنجـاب ادب اور ثقافـت، نګارشـات، ميـان چيمبـرز لاهور، بك برنټرز لاهور، 1994ء، مخ98.

(28) کلياتِ خوشحال خان خټك، مخ953.

(29) همدغه کتاب، مخ503.

(30) همدغه، مخ145.

(31) نيازی، محمود، خزانه تلميحات،

(32) دهلـوي، سـيد احمـد مولـوي، فرهنـگ آصـفيه، مرکـزي اردو بورډ لاهور، کمبائن پرنټرز، لاهور، جلد3، 1977ء، مخ409.
(33) ازاد، ابـو الکـلام مولانـا، ترجمـان القـرآن، شـيخ غـلام علـي اينـډ سنز، لاهور، غلام علي پرنټرز، سن اشاعت نه لري، جلد2، مخ267.
(34) سـيوهاروي، محمـد حفـظ الرحمـان، مولانـا، قصـص القـرآن، ندوة المصنفين دهلي، 1946ء، مخ268.
(35) کليات خوشحال خان خټک، مخ93.
(36) همدغه، مخ155.
(37) همدغه، مخ64.
(38) همدغه، مخ393.
(39) دائرة المعارف، مخ333.
(40) فرهنگ اصفيه، جلد3، مخ201.
(41) محمـد بـاقر، ډاکټـر، تـاريخ ساسـانيان، پبلشـرز يونائټـډ لمېټـډ لاهور، يونائيټډ پريس لاهور، 1954ء، مخ157، 158.
(42) کليات خوشحال خان خټک، مخ953.
(43) همدغه کتاب، مخ54.
(44) همدغه، مخ398.
(45) همدغه، مخ195.
(46) حسـن، ابـو القاسـم، مثنـوي وامـق و عـذرا، دائـرة المعـارف اسـلامي اردو دانشـګاه لاهـور، يونيورسـټي پـريس لاهـور، 1988ء، مخ43.
(47) W. Smith Dictionary of Greed e Roman Bioeraphy e Mytholoey, Londen, 1849, Vol: 111 Page 29.
(48) حسن، ابو القاسم، مثنوي، وامق و عذرا، مخ40، 41.
(49) کليات خوشحال خان خټک، مخ75.
(50) همدغه، مخ188.
(51) همدغه، مخ283.

(52) همدغه، مخ867.

(53) دهلوي، سيد احمد ، فرهنګ اصفيه، مخ4- 242.

(54) تبرېزي، محمد علي، ريحان الادب، ناشر محمد علي تبرېزي خياباني، مطبع تبرېز، جلد 4، 1324 ش، مخ239.

(55) E.J, Brill, Encyclopaedia of Islam, Leyden, 1913, vol: 3, page 96.

(56) کليات خوشحال خان ختټک، مخ190.

(57) احمد جان، منشي، د قصه خوانۍ ګپ، ناشر او مطبع چاپ ځای پېښور، 1985، مخ5.

(58) غزنوي، خاطر، سرحد کی روماني کهانيان، لوك ورثه، اسلام اباد، مطبع نۀ لري، 1978ء، 159.